مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د نومبر درېیمه | ٤٥٥مه گڼه

2 017550 139621


# د ارگ او اجرایه ریاست ناندری؛

## عبدالله عبدالله: د ولسمشر د سولې طرحه هسې یوه هیله او ارمان دی



۳

### پوهنتون

۴ مخ

## سبا د لوړو زده کړو موسسه

د دې موسسې د استادانو او نورو اداري کارکوونکو شمېر د ۴۴ په شاوخوا کې دی چې د شاغلي رسولي په خبره، ځینې استادان یې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې لري.





## د کرنې ریاست: په هلمند کې د املوکو بڼونو ښه پایله ورکړې ده



د هلمند د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکو ویلي چې په دغه ولایت کې د نورو مېوو ترڅنگ د املوکو بڼونو هم ښه پایله ورکړې ده.

د هلمند د کرنې ریاست له خوا د دغه ولایت په څېړنیز فارم کې تازه پر یوشمېر نویو نباتاتو څېړنې شوې وې، چې له دې ډلې د املوکو نیالگي هم په توافقي ډول تر څېړنې لاندې نیول شوي وو او وروسته د بزگرانو په واک کې ورکړل شوي چې اوس یې د بڼونو حاصلات د قناعت وړ دي.

د هلمند د کرنې او مالدارۍ رییس زلمي الکو ویلي، دوی هڅه کوي چې په دغه ولایت کې د کوکنارو د کرکیلې د مخنیوي لپاره بزگرانو ته مېوه لرونکي نیالگي ورکړي.

هغه ویلي، په همدې موخه د دغه ولایت په څېړنیز فارم کې د املوکو نیالگي اېښودل شوي او څېړنې ور باندې شوې دي.

### افغان سوله او شانگهای سازمان

۲ مخ

### د هسکې مېنې پېښه؛ د عامو وگړو د مرگ ژوبلې لړۍ

۲ مخ

### افسردگی در سالمندان؛ علائم، دلایل و راه‌های درمان آن

۵ مخ

## ولسي جرگه: سرپرست وزیران دې نور وزارتونه او ادارې نه چلوي

ولسي جرگې پر افغان حکومت نیوکه کړې چې ګڼ وزارتونه او ادارې یې د سرپرستو کسانو له خوا چلول کېږي او پر حکومت یې غږ کړی چې د کابینې نوي وزیران باید د باور رایې ترلاسه کولو لپاره ولسي جرگې ته ور وپېژني. د ولسي جرگې غړو په خپله پرونۍ غونډه کې تر ډېره پر حکومت نیوکې کولې چې گنې د خپلې کاري دورې تر پایه د وزارتونو او ادارو سرپرستي ختمه نه کړی شوه چې قانوني کسان مسوولیتونه پر مخ یوسي.

دوی ویلي، که حکومت د سرپرستو وزیرانو پرځای کاندید وزیران وپېژني، نو دوی حاضر دي چې د کابینې د بشپړېدو په خاطر رایه ورکړي.

د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني ویلي، که د حکومت موده یوه ورځ هم وي، باید دوی ته د وزارتونو لپاره وزیران ور وپېژني. نوموړي ویلي، چې سرپرست وزیران دې نور وزارتونه او ادارې نه چلوي. هغه زیاته کړې: «موږ خو هره ورځ پر حکومت غږ کوو چې وزیران را معرفي کړئ، خدای دې وکړي چې یوه ورځ هم دا حکومت وي، دا یې دنده ده چې موږ ته وزیران را وپېژني، هر څوک چې یې مخ ته راغلی وایي څه ته سرپرست. والي سرپرست، معین سرپرست، قومندان سرپرست تر کومه به دا حکومت سرپرستان پر مخ بیایي». دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې هم د ولسي جرگې له حکومته غوښتي وو چې وزارتونو ته دې وړ کسان ور وپېژني. بلخوا ارگ ته یوې نږدې سرچینې بي بي سي ته ویلي، د افغانستان له ٢٦ وزارتونو دامهال ١٢ یې سرپرست نوماند وزیران او درې نور بیا چارسمبالي وزیران اداره کوي. خو ولسمشرۍ ماڼۍ وایي، په یوه مناسب وخت کې به ولسي جرگې ته د وزارتونو لپاره نوماند وزیران ور وپېژني.

## په افغانستان کې د اوږدمهاله سولې لپاره د تاوتریخوالي کمول مهم دي



۳ مخ

## دو وکیل و چهار مقام بلندپایهٔ برحال و پیشین به څارنوالی معرفی شدند



ریاست ثبت و بررسی دارایی های اداره امور ریاست جمهوری، شش تن به شمول دو والی برحال، دو عضو ولسی جرگه، یک معین برحال و یک وزیر پیشین را به دلیل ثبت معلومات غلط و گمراه کننده، به لوی څارنوالی معرفی کرد.

عبدالودود بشریار رئیس ثبت و بررسی دارایی های مقام های دولتی اداره امور ریاست جمهوری، دیروز در صحبت با رسانه ها گفت که این ریاست، فضل الدین عیار والی پروان، عبداللطیف ابراهیمی والی سمنگان، حبیبه سادات نماینده مردم هلمند در ولسی جرگه، صفورا ایلخانی نماینده مردم بامیان در ولسی جرگه، سلامت عظیمی وزیر اسبق مبارزه با مواد مخدر و روح الله نیازی معین ارگانهای محلی را به څارنوالی معرفی کرده است.

او بدون ارایه جزئیات افزود که این شش تن، به دلیل ثبت معلومات غلط و گمراه کننده در ثبت دارایی های شان، به منظور تحقیقات بیشتر به څارنوالی معرفی شده اند.

به گفته موصوف؛ طی سال جاری حدود ۱٦۵۰۰ تن از مقام های دولتی واجد شرایط، دارایی های شانرا ثبت کرده اند.

بشریار گفت که مقام ها، همه ساله دارایی های شانرا ثبت می کنند و در صورتی که معلومات ثبت شده دور از واقعیت باشد، مورد پیگرد قرار می گیرند.

وی در مورد جزئیات بیشتر ارایه نکرد؛ اما گفت که څارنوالی به اساس قانون مکلف است که در مورد تحقیق نماید.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal English Academy

شیگل انگلیش اکاډمي

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

# دریـــځ

## افغان سوله او شانگهای سازمان

د شانگهای سازمان په اتلسمه سرمشریزه کې یوځل د افغانستان پر سوله او امنیت ټینګار شوی دی. دې غونډې ته اجرایه رییس ډاکټر عبدالله هم ورغلی او هلته یې په خپلو خبرو کې غوښتنه کړې چې شانگهای سازمان او سیمه دې د افغانستان په سوله او امنیت کې مرسته وکړي. نوموړي دې غونډې ته ویلي: «د شانگهای د همکاریو سازمان سیمه ییزو هېوادونو هوساینه د افغانستان په سولې او ثبات پورې تړلې ده، نو لازمه ده چې د سیمې د ګډو ستونزو د حل لپاره په ګډه د عادلانه سوله ییزې او باعزتې کړنلارې له مخې د جګړې ختمولو ته هڅه او کار وکړو».

د سیمه ییزو ستونزو د حل، په ځانګړې ډول د افغان کړکېچ په سوله ییز حل کې د شانگهای د همکاریو سازمان رول ډېر بارز دی؛ ځکه په افغانستان کې تاوتریخوالی تر هر چا ډېر د دغه سازمان غړو هېوادونو ته ګواښ پېښوي، په دې دلیل چې په جغرافیایي لحاظ دا هېوادونه افغانستان ته نږدې پراته دي او هغوی ته د ترهګرۍ او تاوتریخوالي د خپراوي شونتیا نسبت د نړۍ نورو برخو ته ډېر ده. له همدې کبله په یو ډول د شانگهای سازمان او افغانستان برخلیک سره غوټه دي. شانگهای سازمان د خپلو اهدافو، په ځانګړي ډول اقتصادي موخو او پراختیایي پروژو د پلي کولو لپاره په افغانستان کې ثبات ته اړتیا لري.

شانگهای سازمان په سیمه کې د افغانستان د کړکېچ په ګډون، د ډېرې ستونزو د حل کولو ظرفیت لري. دوه نړیوال زبرځواکونه روسیه او چین چې په ملګرو ملتونو کې د ویټو حق لري، د سازمان غړي دي او پر دې سربېره ټول غړي هېوادونه یې د نړۍ نږدې نیمایي نفوس تشکیلوي. په اقتصادي لحاظ هم د چین او هند په څېر ستر ځواکونه په دغه جوړښت کې سره یوځای شوي او که د ګډو ګټو لپاره د ګډ کار په موخه پر مشترکاتو هوکړه سره وکړي، دغه سازمان نه یوازې د خپلو غړو هېوادونو، بلکې د افغانستان او سیمې لپاره هم ګټور تمامېدلی شي.

څه چې زموږ لپاره په اوس وخت کې مهم دي، هغه سوله او ثبات دي. دغه سازمان د افغان کړکېچ په حل کې ډېره مرسته هم کولی شي، ځکه سیمه ییزه اجماع په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره یوه اساسي اړتیا ده. که د سازمان غړي هېوادونه، د ګډ راتلونکي لپاره په خپلو کې شته توپیرونه یو طرف ته کړي او د ټکر د ټکو پر ځای پر هغو مواردو ټینګار وکړي چې د هغوی ترمنځ پرې د همغږۍ فرصت ډېر دی، نه یوازې افغانستان، بلکې ټوله سیمه ثبات او سوکالۍ ته رسېدلی شي. په افغان سوله کې د دغه سازمان فعاله رول به د امریکا انحصار هم مات کړي او هر څه به د امریکایي ګټو لپاره نه کارول کېږي. له همدې امله د دغه سازمان مثبتو ګامونو ته اړتیا ده، څو په افغانستان کې سوله او ثبات راشي. دا چاره نه یوازې د دغه سازمان د غړو هېوادونو له ګټو سره مرستې کوي، بلکې دوی ته متوجه ګواښونه کموي او د افغانانو د امن او سولې هیله هم ورسره پوره کېدلی شي.

# د هسکې مېنې پېښه؛ د عامو وګړو د مرګ ژوبلې لړۍ

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د ۱۳۹۸ لمریز کال د تلې په ۲٦ مه ننګرهار ولایت د یوې لویې غمیزې شاهد و. دا زړه بوږنوونکې پېښه د دغه ولایت د هسکې مېنې ولسوالۍ په جودرې سیمه کې هغه مهال رامنځته شوه، چې د یادې سیمې اوسېدونکي د جمعې لمانځه لپاره په ځایي جومات کې راټول شوي وو.

په پېښه کې تر ۷۰ زیات کسان وژل شوي او تر ۱۰۰ ډېر ټپیان شوي دي. همدارنګه د دغه برید مسوولیت چا نه دی منلی او طالبانو هم پکې لاس لرل رد کړې دي. پر افغان حکومت سربېره، ملګرو ملتونو، امریکا، چین، روسیې، هند، پاکستان، ایټالیا، ایران، په افغانستان کې د امریکا سفیر، په افغانستان کې د ناټو په مشرۍ د غوڅ ملاتړ ماموریت په ټوله کې برید په ملي او نړیواله سطحه وغندل شو. د بشري نړیوالې اداري هم دا برید جنګي جنایت بللی او زیاتوي چې په افغانستان کې د عامو وګړو مرګ‌ژوبلې زیاتېدل نړیوالې پاملرنې ته اړتیا لري.

په داسې حال کې چې د سولې خبرې له تېرې نږدې یوې لسیزې راهیسې په وروستیو څو میاشتو کې یوه هیله بښونکې پړاو ته رسېدلې وې، خو له تېرو دوو میاشتو راهیسې په ټپه درول شوې او دا ډول حملې په حقیقت کې د سولې هغه قیمت دی چې عام وګړي یې پرېکوي.

د هسکې مېنې پېښه، د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله، د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه د یوناما راپور ته کتنه او دا چې روان وضعیت به څه پایلې ولري؟ هغه موضوعات دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

### د هسکې مېنې پېښه

د هسکې مېنې پېښه یوه له هغو پېښو ده چې تر اوسه یې پړه چا پر غاړه نه ده اخیستې، په تېره یوه نیمه لسیزه کې دې ته ورته په لسګونه پېښې په کابل او ولایتونو کې شوې دي چې تر اوسه یې طرف نه دی معلوم شوی، د دې پېښې د څرنګوالي لپاره افغان حکومت او نړیوالې ټولنې پلټنې پیل کړې تر څو یې طرف معلوم کړي، خو تېرو تجربو ښودلې چې دې پلټنو هم کومه مثبته پایله له ځان سره نه ده لرلې، خو په ټوله کې دا ډول حملې او روانه جګړه یوازې له عامو افغانانو ژوند اخلي او بس.

د هسکې مېنې د خلکو سره د غمرازۍ په موخه جمهور رییس محمد اشرف غني یادې ولسوالۍ ته سفر وکړ او له خلکو سره یې وعده وکړه چې د دې غمیزې عاملین به پیدا کوي او مرکزي حکومت به د دوی ستونزو ته ځانګړې پاملرنه کوي او د کارونو د تعقیب په موخه یې د امنیت شورا سلاکار حمد الله محب ته دنده وسپارله چې د دوی ستونزې واوري او په حل کې یې جدي اقدام وکړي. همدارنګه مشرانو جرګې د دغه برید په پار د ملي ماتم د اعلان غوښتنه هم وکړه او په افغانستان کې غیر دولتي خیریه بنسټ (احساس) هم بشر دوستانه مرستې دې سیمې ته ورسولې.

د افغانستان په جګړه کې ټول دخیل اړخونه دې پایلې ته رسېدلي چې د افغانستان د موضوع حل په جګړه نه، بلکې د خبرو اترو له لارې شونی دی. که چېرې یې حل جګړه وی، خو په تېرو دوو لسیزو کې به یې نسبي حل راوتلی و، خو موږ ګورو چې ورځ تر بلې جګړه ګرمېږي او قیمت یې عام افغانان ورکوي.

د هسکې مېنې پېښه او دې ته ورته نورې ډېرې پېښې، د سولې هغه قیمت دی چې تر نن پورې یې عام افغانان ورکوي او څومره چې سوله ځنډېږي، هماغومره به دا قیمت نور هم پورته ځي.

### جنګ له افغانانو نه قرباني اخلي

د افغانستان په روانه جګړه کې له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري د ملکي وګړو ژوند ته پاملرنه نه ده شوې او له همدې امله هر کال په دغه جګړه کې د جګړې د ښکېلو لورو ترڅنګ، زرګونه عامو وګړو ته هم مرګ ژوبله اوړي.

د یوناما د شمېرو له مخې، له ۲۰۰۹ز کال راوروسته چې یوناما پکې د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې ثبتول پیل کړل، د ۲۰۱۹ز کال تر درېیمې ربعې په افغانستان کې په مجموعي توګه ۹۰ زره ولسي وګړو ته د جګړې د ښکېلو لورو له خوا مرګ ژوبله اوښتې ده.

په ۲۰۱۴ ز کال کې د ملي یووالي حکومت له راتګ سره، کله چې له امریکا سره امنیتي تړون په هېواد کې د امن او سولې په پار لاسلیک شو، خو برعکس د جګړې میدان ګرم او د عامو وګړو مرګ‌ژوبله زیاته شوه. د یوناما د ارقامو له مخې، د ملي یووالي حکومت په دوره کې هر کال شاوخوا لس زره عامو وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې او په ټولیز ډول دغه وضعیت ورځ تر بلې د جګړې د میدان له ګرمېدو سره لا هم د خرابېدو په لور روان دی چې په افغانستان کې د یوه ناورین ښودنه کوي، ښه بېلګه یې د هسکې مېنې پېښه ده.

د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې څارونکي بنسټونه، په افغانستان کې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې پړه تر ډېره د دولت پر وسله والو مخالفینو ور اچوي، خو د وسله والو مخالفینو ترڅنګ، افغان او بهرني ځواکونه د دغې مرګ ژوبلې مهم عاملین دي چې په دغو راپورونو کې تر ډېره سترګې ترې پټېږي. د بهرنیانو له لوري ړندې بمبارۍ او هغه حملې چې څوک یې پړه په غاړه باندې نه اخلي، د عامو خلکو په کورونو، مدرسو، جوماتونو، جنازو، د خوښیو مراسمو او نورو ملکي تجمعاتو وخت ناوخت تر سره کېږي او په تېرو څو کلونو کې یې زرګونه ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

### د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې په اړه نوي راپورونه

د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) له لوري خپاره شوي ارقام ښیي چې د ۲۰۱۹ز کال په درېیمه ربعه کې د عامو وګړو مرګ‌ژوبله خپلې لوړې کچې ته رسېدلې ده.

په ټولیزه توګه، د ۲۰۱۹ز کال په لمړیو ۹ میاشتو کې د ثبت شویو ارقامو له مخې، ۸۲۳۹ عامو وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې (۲۵٦۳ مړه او ۵٦۷٦ ټپیان)- چې له ۲۰۱۴ز کال راپه دېخوا په متواتر ډول د ۹ میاشتو په موده کې په افغانستان کې د عامو وګړو د لوړې کچې مرګ ژوبله په ډاګه کوي. همدارنګه د کال په وروستۍ ربعه کې یوناما د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې تر ټولو لوړه شمېره ثبت کړې ده.

د جولای له لمړۍ د سپټمبر تر ۳۰مې د عامو وګړو د مرګ ژوبلې په تایید شوې شمېره کې د ۲۰۱۸ز کال د همدې مودې په پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی راغلی دی. پردې سربېره په جولای میاشت کې یوناما چې له ۲۰۰۹ز کال راهیسې یې په افغانستان کې په سیستماتیک ډول د عامو وګړو د مرګ ژوبلې ثبتونه پیل کړې، په یوه میاشت کې د عامو وګړو تر ټولو لوړ شمېر مرګ‌ژوبله ثبت کړې.

تر هغه وروسته د سږ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو په مجموعي شمېر کې کموالی راغلی چې تر ډېره د وسلوالو ډلو لخوا ملکي مرګ ژوبله کمه شوه، خو د کال په درېیمه ربعه کې چې کله د طالبانو او امریکا ترمنځ مخامخ خبرې بندې شوې، د طالبانو لخوا د عامو وګړو مرګ‌ژوبلې په کچه کې بېرته زیاتوالی راغلی دی. په ورته وخت کې د جنورۍ له لومړۍ د سپټمبر د میاشتې تر ۳۰ مې د حکومت پلوه ځواکونو د هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو له کبله هم عامو وګړو مرګ ژوبله خپل اوج ته رسېدلې ده.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازي تدامیچي یاماموتو وویل: «په افغانستان کې د جګړې له کبله په لوړ شمېر کې د عامو وګړو د مرګ ژوبلې رامنځ ته کېدل د داسې سولې د خبرو اهمیت په ګوته کوي، چې د اوربند د رامنځ ته کېدو او د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د یو سیاسي دایمي جوړجاړي سبب شي؛ کومه بله لار نشته». ښاغلی یاماموتو چې د یوناما مشر هم دی، زیاته کړه: «د ملکي وګړو مرګ ژوبله په هېڅ ډول د منلو نه ده، په ځانګړي توګه چې ټول پر دې باور دي چې د افغانستان جګړه نظامي حل لاره نه لري».

د دغه راپور پر اساس، په افغانستان کې د ټولې مرګ‌ژوبلې ۴۱ سلنه ښځې او ماشومان دي. د ۲۰۱۹ز کال په لومړیو نهو میاشتو کې ۹۲۳ ښځو ته (۲٦۱ وژل شوي او ٦٦۲ ټپیان) مرګ ژوبله اوښتې، همدارنګه ۲۴٦۱ ماشومانو ته(٦۳۱ تنه یې وژل شوي او ۱۸۳۰ یې ټپیان) مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

### روان وضعیت په کوم لوري روان دی؟

کله چې د طالبانو-امریکایانو ترمنځ مخامخ خبرې بندې شوې، د سولې په ځای ټاکنو ته پام واوښتو او ټاکنې د تلې په شپږمه تر سره شوې، داسې انګېرل کېږي چې په ټاکنو کې ۹ میلیونو کسانو نوملیکنه کړې وه، یوازې ۲ میلیون کسانو په ټاکنو کې برخه اخیستې او لومړنۍ پایلې یې ټاکل شوې وه چې د میزان په ۲۷ مه نېټه اعلان شي، تر نامعلومې نېټې پورې وځنډېدلې.

همدارنګه د سولې د خبرو له درېدو سره د امریکایي چارواکو راتګ افغانستان ته زیات شوی، په ځانګړې ډول د هغو کسانو چې هغه په افغانستان کې د امریکا د پاتې کېدو پلوي دي. د دغو سفرونو په لړ کې ورمه جمعه د امریکا دفاع وزیر په یوه نااعلان شوي سفر افغانستان ته راغی او په یوه مطبوعاتي غونډه کې د افغانستان له دفاع او داخله وزیرانو سره راڅرګند شو، ده وویل چې طالبان د هر بل وخت نه زیات ځپل شوي او تر فشار لاندې دي او افغان ځواکونه یې وستایل چې د دفاعي حالت نه یې تعرضي شکل غوره کړی او دوی ته یې د خپلو اوږدمهاله نظامي مرستو وعده ورکړه. له دې سره هممهاله د امریکا د سنا د مشرې نانسي پلوسي په مشرۍ پلاوی هم افغانستان ته سفر وکړ او د افغان ولسمشر، اجرایه رییس او نظامیانو سره یې ولیدل د افغان نظامیانو سره د لیدنې پرمهال یې د دوی هڅې د جګړې په ډګر کې وستایلې او زیاته یې کړه چې ستاسو قربانۍ یوازې د افغانستان خاورې د ساتلو او افغانانو لپاره نه بلکې د ټولې نړۍ د ساتنې لپاره دي.

دا چې کله له طالبانو سره د امریکا مخامخ خبرې بندې شوې، امریکایي لوري تل د جګړې ژبه کارولې او ورسره په افغانستان کې امنیتي وضعیت هم خراب شوی او د عامو وګړو مرګ‌ژوبله هم خپل اوج ته رسېدلې، چې ښه بېلګه یې د هسکې مېنې واقعه ده. په اوس وخت دا ډول څرګندونې د هغه څه ښکارندویي کوي چې د افغانستان په قضیه کې جنګ پلوه داخلي او بیروني اړخونه روان وضعیت په خپله ګټه بولي، نو ځکه خو جنګي اجراءاتو ته د سولې د مذاکراتو په ځای ترجیح ورکوي، په داسې حال کې چې د دغه وضعیت پایله نه یوازې په افغانستان کې د جګړې دوامداره کېدل او د زیاتو افغانانو وژل کېدل دي، بلکې د دې سرخوږي دوام به سیمه او نړۍ هم د نه جبرانېدونکو پایلو سره مخ کړي.

# ځارونکي بنسټونه: په کمېسیون کې ستونزو ته په کتو، ښایي لومړنۍ پایلې پر خپل وخت اعلان نه شي

پر ټاکنو د ځار بنسټونه وایي، د ټاکنو کمېسیون پر وړاندې پرتو ستونزو او خنډونو ته په کتو، ممکن لومړنۍ پایلې په خپل وخت اعلان نه شي.

د درملوګ کمپنۍ له لوري د ټاکنو کمېسیون د بایومټریک راپور په ځنډ سره سپارل، په راپور کې تخنیکي ستونزې او د کمېسیون د کارونو ټکني بهیر داسې اندېښنې را ولاړې کړې چې ممکن نوی ټاکنیز مهالوېش هم تر پښو لاندې شي.

د افغانستان د ازادو اوعالانه ټاکنو بنسټ یا فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید ازادي راډیو ته ویلي: «تېرو تجربو ته په کتو کمېسیون په خپلو ژمنو او کارونو کې پاتې راغلی، که دا ځل یې له تېرو ښه زده کړه کړې وي او خپل کار په ښه توګه مدیریت کړي، تمه شته، خو ستونزې او خنډونه موجود دي، کېدای شي د عقرب په ۲۳ د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان نه شي کړای».

نوموړي دغه راز ټینګار کړی چې کمېسیون باید د غوره پلان پر بنسټ خپلې سرچینې ښې مدیریت کړي او د مشکوکو صندقونو د ځنډېدلو په موخه هم ډېر ژر خپل پلاوی ولایتونو ته ولېږي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، چې درملوګ کمپنۍ دوی ته د بایومټریک تصفیه شویو رایو بشپړ راپور سپارلی دی.

د دغه کمېسیون چارواکو ویلي، په راپور کې ځینې تخنیکي ستونزې موجودې وې، خو درملوګ کمپنۍ ورته ځواب ویلی دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاندې شیما علم سروش ازادي راډیو ته ویلي، کمېسیون له هرې ممکنې او قانوني لارې نه په استفادې هڅه کوي، څو په خپل وخت د رایو پایلې اعلان کړي.

هغې ویلي: «کمېسیون هڅې کوي چې په خپل وخت سره د رایو لومړنۍ پایلې اعلان کړي، دلته تخنیکي ستونزې موجودې دي، کوښښ روان دی چې ډېر ژر هوارې شي او په ټاکلي وخت د رایو نتایج اعلان شي».

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د روان کال د تلې په شپږمه ترسره شوې او له مخکنې ټاکنیز مهالویش سره سم، ټاکل شوې وه چې لومړنۍ پایلې د تلې په ۲۷ او وروستۍ پایلې د لړم په ۱٦ مه اعلان شي، خو کمېسیون په یاد مهالوېش کې پاتې راغلی دی.

اوس له نوي ټاکنیز مهالوېش سره سم کمېسیون ژمنه کړې، چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې به د لړم په ۲۳ او وروستۍ هغه به د لیندۍ په ۱۵ مه اعلانوي.


# د ارگ او اجرایه ریاست ناندرۍ؛

## عبدالله عبدالله: د ولسمشر د سولې طرحه هسې یوه هیله او ارمان دی



د سولې پر مسئله په تېره بیا د سولې لپاره د ولسمشر غني پر طرحه د ارگ او سپېدار مانۍ ترمنځ ناندرۍ را ولاړې شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې ولسمشر غني د سولې په اړه یوه اووه ماده ییزه طرحه جوړه کړې وه چې د رسنیو له لارې خپره شوه. په یاده طرحه کې د بهرنیو ځواکونو پر وتلو، ترهگرۍ ضد مبارزې، بین الافغاني خبرو، اوربند او نورو موارد‌و بحث شوی و، خو اوس اجرایه رییس وایي چې دا د سولې یوه ټولمنلې طرحه نه، بلکې یو ارمان او هیله ده.
خو د ولسمشر ویاند بیا د اجرایه رییس پر دغه خبرو غبرگون ښودلی دی.
څو ورځې وړاندې رسنیو داسې یوه طرحه خپره کړه چې په هغه کې د سولې لپاره د افغان حکومت سرې کرښې او تگلاره مشخصه شوې وه. د طرحې تر خپرېدو څو ورځې وروسته د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب وویل، چې د دې طرحې په عملي کولو سره به افغانستان ته یوه با عزته او دایمي سوله راشي. دا طرحه اووه مادې لري چې تر ډېره مخکې هم د ولسمشر غني په خبرو کې دغه موارد یاد شوي وو. د طرحې یوه نوې برخه دا ده چې حکومت له طالبانو سره د خبرو لپاره شرط اېښی دی. حکومت وایي، د دې د ثابتولو لپاره چې طالبان په یوه خوله دي کنه، رښتیني دي کنه او ټول له یوه ځایه کنټرولېږي کنه، نو باید یوه میاشت اوربند وشي. محب ټینگار کړی و چې که اوربند وشو او جگړه ودرېده، نو له طالبانو سره به واقعي خبرې پیل شي.
خو اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا په خپله یوه تازه مرکه کې د ولسمشر غني د سولې پر طرحه نیوکه کړې ده. ده ویلي، دا د سولې یوه واقعي طرحه نه، بلکې یوه هیله او ارمان دی. ده دا تور هم پورې کړی چې ولسمشر د دې طرحې په اړه له هېچا سره مشوره نه ده کړې، په داسې حال کې چې سوله د ټولو افغانانو غوښتنه ده او له ټولو اړخونو سره یې باید په اړه سلا مشوره وشي.
نوموړي ویلي، د سولې د راوستو لپاره تر هر څه وړاندې پر سوله باور مهم دی. هغه دغه راز ویلي چې ولسمشر غني تر اوسه په سوله باور نه لري، نو ځکه یې طرحه هم رښتینې طرحې ته ورته نه ده.
د ډاکټر عبدالله عبدالله په خبره، د واقعي سولې لپاره باید پر سولې باور رامنځ ته شي او له ټولو اړخونو سره واضح خبرې وشي. د ده په خبره: «پر سولې باور، پر دې باور چې د افغانستان خلک دا خپل بنسټیز ضرورت گڼي د پیل ټکی دی؛ له هغې وروسته ټول مسایل راځي. د هغه څه په اړه چې د سولې تر نامه لاندې عنوان شوي، د هغه قضاوت خلکو ته پرېږدو. له هماغه پیله، د دغه کار له پیله دا اړینه وه چې د حکومت پر کچه باید بحث شوی وای، له سیاستوالو سره بحث شوی وای؛ وینو چې یوه نیمگړتیا او کمی شته».
اجرایه رییس وایي، کوم موارد چې د سولې د طرحې تر عنوان لاندې وړاندې کېږي یوازې هیله او ارمانونه دي. د ده په خبره: «هغه طرحه چې پرې بحث کېږي، د دې پرځای چې یوه ټولیزه طرحه وي، تر ډېره توضیحات دي. د هیلو یوه برخه ده چې لېست شوي او دننه په حکومت کې پرې بحث نه دی شوی».
خو ارگ بیا د اجرایه رییس پر دغه څرگندونو غبرگون ښودلی دی. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي ویلي، له هیلې او ارمان سره د یوې برنامې او طرحې برابرول کمزوری سیاسي قضاوت دی. د ده په وینا، ولسمشر غني په پوره توان د سولې لپاره گامونه اوچتوي او په خبره یې دا طرحه او پلان په واضح توگه بیان شوی دی او عملي کولو ته یې متې نغاړل شوې دي.
د صدیقي په وینا، ټول دولت هڅه کوي د سولې د طرحې او د سولې لپاره د ټولو شته پلانونو په عملي کولو کې برخه واخلي او د ولس د سولې ارمان پوره کړي.

# میدویدوف: مسکو چمتو دی چې په افغانستان کې خپلې نیمگړې پروژې بشپړې کړي



د روسیې لومړي وزیر دیمتري میدویدوف ویلي، هېواد یې چمتو دی چې په افغانستان کې تر خپل کار لاندې نیمگړو پروژو باندې پانگونه وکړي.
نوموړي په تاشکند کې د شانگهاي د همکارۍ سازمان د غونډې په څنډه کې له اجرایه رییس عبدالله عبدالله سره په کتنه کې ویلي، مسکو چمتو دی چې په افغانستان کې خپلې تېرې طرحې بشپړه کړي.
د اجرایه ریاست لخوا رسنیو ته د لېږل شوې اعلامیې له مخې، د روسیې لومړي وزیر د کابل او مسکو ترمنځ د سوداگریزې راکړې ورکړې پر کمېدو د اندېښنې په ښودلو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداگریزو اړیکو د پراخېدو غوښتنه کړې ده.
میدویدوف ویلي: «روسیه چمتو ده چې په افغانستان کې تر کار لاندې پروژو باندې پانگونه وکړي او ترڅنگ یې خپلې تېرې طرحې هم تکمیلي کړي».
هغه دغه راز د افغان سولې له بهیر څخه د ملاتړ په ښودلو سره په افغانستان کې د سولې او ثبات د رامنځته کېدو هیله ښودلې ده.
هغه همدارنگه له افغانستان سره د خپلو مرستو په دوام په ټینگار سره ویلي، چې هېواد به یې په فرهنگي، تحصیلي، د نظامي افسرانو روزلو او له مخدره موادو سره د مبارزې په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.
عبدالله هم له نوموړي سره په کتنه په افغانستان کې د روسیې له پانگونې څخه هرکلی کړی او ویلي یې دي: «افغانستان د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداگریزې راکړې ورکړې د زیاتېدو هرکلی کوي».
اجریه رییس د افغان سولې په اړه د روسیې له هڅو په مننې سره ویلي، چې په افغانستان کې د نړیوالو متحدانو او مسکو له همکارۍ پرته سوله نشي راتلی.
عبدالله دغه راز تېره ورځ د شانگهاي همکارۍ سازمان په ۱۸مه غونډه کې د وینا پرمهال په دغه سازمان کې د افغانستان د بشپړه غړیتوب غوښتنه وکړه.
د یادونې ده چې روسیه چین، هند، پاکستان، ازبکستان، تاجکستان، قزاقستان قرغیزستان د شانهگای سازمان دایمي غړي دي او د افغانستان په گډون ایران او بلاروس پکې د ناظر په توگه گډون کوي.

# خلیلزاد: په افغانستان کې د اوږدمهاله سولې لپاره د تاوتریخوالي کمول مهم دي



د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې په افغانستان کې د اوږدمهاله سولې لپاره د تاوتریخوالي کمول مهم دي.
په کابل کې د امریکا سفارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي دغه ځل کابل ته دوه سفرونه درلودل.
په خبرپاڼه کې راغلي، نوموړی یو ځل د اکتوبر له ۲۶مې تر ۲۸ او بیا له ۲۹مې د نوامبر تر لومړۍ ورځې پورې په کابل کې له بېلابېلو دولتي او سیاسي مشرانو، د مدني ټولنې او ښځو له استازو سره سلا مشورې وکړې.
د یادونې ده چې په دغه منځ کې خلیلزاد پاکستان ته هم یو لنډ سفر وکړ او د دغه هېواد له لومړي وزیر عمران خان او د پوځ له مشر جنرال باجوه سره یې ولیدل.
د امریکا سفارت ویلي چې خلیلزاد په کابل کې له ولسمشر اشرف غني، له اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله او نورو دولتي چارواکو سره لیدنې کتنې درلودې.
سرچینې زیاته کړې، د امریکا ځانگړي استازي افغان مشرانو ته د خپلو سفرونو او له متحدینو سره د افغان سولې په تړاو د خپلو لیدنو کتنو او سلا مشورو په اړه معلومات ورکړل.
په خبرپاڼه کې راغلي، په دې لیدنو کې زلمي خلیلزاد په ډاگه کړې چې امریکا په افغانستان کې د سیاسي جوړجاړي ملاتړ کوي، څو په دغه هېواد کې اوږده جگړه پای ته ورسېږي.
خلیلزاد زیاته کړې، په افغانستان کې د اوږدمهاله سولې لپاره د تاوتریخوالي کمول مهم دي.
خو د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب تېره اونۍ په یوه خبري کنفرانس کې ویلي وو چې د خلیلزاد دغه ځل سفر له سولې سره تړاو نه درلود او د امریکایي پوهنتون د استادانو چې له طالبانو سره بندیان دي، د خلاصولو په اړه یې لیدنې کتنې او خبرې کړې دي.



# پامپیو: د عراق حکومت باید د لاریون کوونکو مشروع غوښتنې واوري

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په یوه اعلامیه کې ویلي، د عراق حکومت باید د لسگونو زرو عراقي اعتراض کوونکو مشروع غوښتنې واوري.
پامپیو ویلي: «متحده ایالتونه به د عراق د حکومت د ټولو هغو جدي هڅو ملاتړ وکړي چې په عراقي ټولنه کې موجودې ستونزې هوارې کړي».
د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په خبرپاڼه کې د پامپیو له قوله پر دې ټینگار شوی چې بغداد باید د هغو زرگونو کسانو مشروع غوښتنو ته غوږ کېږدي چې د خپل اواز د پورته کولو په خاطر سړکونو ته راوتلي دي.
تر اوسه پورې د عراق د حکومت پر ضد دې اعتراضونو کې د تاوتریخوالي له کبله ۲۶۰ کسان وژل شوي دي.
اعتراض کوونکي اداري فساد، بېکارۍ، د لومړنیو خدمتونو نشتوالي او د عراق په چارو کې د ایران لاسوهنې غوسه کړي دي. دا لاریونونه چې د څو اونیو راهیسې روانې دي، د جمعې په ورځ یې په ترڅ کې لسگونه زره عراقیان د بغداد په مرکز کې راټول شوي وو.
دغلته لږترلږ ۳۵۰ کسان هغه مهال ټپیان شول چې پولیسو د اعتراض کوونکو د خورولو لپاره اوښکې بهوونکی گاز او ربړې گولۍ وکارولې.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له ټولو خواوو غوښتي چې له تاوتریخوالي دې ډډه وکړي او زیاته کړې یې ده چې عراقي وگړي د رښتیني انصاف او حساب ورکولو مستحق دي.
د پامپیو په وینا، د اکتوبر په پیل کې د شوي تاوتریخوالي په اړه د حکومت څېړنې کافي اعتبار نه درلود.
د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په وینا، د عراق د ولسمشر بهرام صالح وروستي اقدامات چې د بیان او رسنیو پر ازادۍ جدي محدودیتونه لگوي، باید نرم شي.
بلخوا د بښنې نړیوال سازمان ویلي چې په بغداد کې امنیتي ځواکونو د پوځي کچې اوښکې بهوونکي گاز او لاسي بمونه پر گڼه گوڼه ورغورځولي چې ډېرې کسان پکې ټپیان شوي دي.
د بښنې د نړیوال سازمان په وینا، د اعتراضونو د یوې څپې پر مهال نهه ویشتونکو اعتراض کوونکي پر سر او سینو په ډزو ویشتلي چې تر یوې اونۍ په کمه موده کې یې په ترڅ کې ۱۵۰ کسان وژل شوي.
د راپورونو له مخې، په دې اعتراضونو کې تر ۱۲ زرو زیات کسان ټپیان شوي هم دي.
په اکتوبر میاشت کې عراقي پوځ ومنله چې د اعتراضونو د پیل پر مهال یې له حده زیات ځواک کارولی او دا یې هم وویل چې د هغو قومانده ورکوونکو افسرانو سره به حساب وکړي چې ناسم اقدامات یې کړي دي.
د عراق ولسمشر برهام صالح تر دې مخکې د معترضانو پر وړاندې تاوتریخوالی غندلی او د اکتوبر په اوومه یې په ټلوېزیوني وینا کې د اداري فساد او خلکو ته د کار د ښو فرصتونو د پیدا کولو په برخو کې د یو لړ تدابیرو اعلان وکړ، خو دې اعلان اعتراض کوونکي قانع نه کړی شول.

## د کتاب خبرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ ليکوال: ابوبکر صديق

◎ ژباړن: اقامحمد قريشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهګرۍ په لومه کې




د پاکستان پوځ د ۲۰۰۹ز کال د اپرېل په پای کې سوات ته ورښکته شو، د جګړې په لومړيو دوو مياشتو کې ۲.۵ ميليونه عام وګړي کډوال شول. د اګسټ تر لومړيو پورې پوځ د طالبانو د شبکې ډېر کسان وځپل. د سوات د طالبانو ځينې مشـران يې ووژل او ځينې نور يې ونيول، له جګړې وروسته پوځ د سيمې د ثبات لپاره هلته تم شو. که څه هم ډېرو عامو خلکو د دې نظامي عملياتو ملاتړ وکړ، خو ځينې غبرګونونه يې هم راپورته کړل. د ۲۰۰۹ز کال په جولای کې افراسياب خټک په پېښور کې امريکايي قونسلې برېن ټربسي ته ويلي وو چې ولايتي اداري د ISI د هغو غوښتنو مخالفت وکړ چې له مخې يې هغوی د صوفي محمد خوشي کېدل او سوات کې د طالب مشـرانو تسليمېدل ومني. برېن ټربسي د ۲۰۰۹ز کال په جولای کې واشنګټن ته په يوه ډيپلوماتيک پيغام کې چې وروسته بيا د ويکيليکس له لوري خپور شو، ليکلي: ((خټک په ټېنګه وويل چې ولايتي اداري نه غوښتل، دا پلان پلي کړي. په سوات کې عمليات بايد يوې منطقي حل لارې ته ورسېږي چې يا د ياغيانو مشـران ووژل شي او يا هم ونيول شي.))

د ۲۰۱۰ز کال په دوبي کې مولانا فضل الله د افغانستان په نورستان ولايت کې راپورته شو، د پاکستان پوځ ونه توانېد معامله ورسره وکړي. د هغه له ژغورلو سره په سوات کې د طالبانو د بيا راپورته کېدو هيلې تازه شوې، که څه هم ياغيانو ځو بريدونه وکړل، خو په سوات او ملکنډ کې د پاکستاني پوځ پرلپسې موجوديت په دې مانا و چې هغوی نه غوښتل، افراطيان بيا راپورته شي. د ۲۰۱۲ز کال په اکتوبر کې ياغيانو د سولې يوه فعاله، ملاله يوسفزۍ وويشته او ژوبله يې کړه. دې پنځلس کلنې نجلۍ د سولې او نجونو د تعليم کمپاينونه مخته وړل. هغې د بي بي سي اردو څانګې بلاګ ته په ۲۰۰۹ز کال، په سوات کې د طالبانو ظلمونه د نېټو په ترتيب سره خپاره کړل. له دې پېښې سره د طالبانو پر ضد د خلکو غوسه وپارېده، له طالب ضد پښتنو سره نور پاکستانيان هم يو ځای شول. په ۲۰۱۳ز کال د حکمت الله محسود (مسيد) له وژل کېدو سره فضل الله بيا راښکته شو او له پاکستاني مشـرانو سره يې بيا فعاليتونه پيل کړل.

د پښتنو په سيمو کې د پوځ جګړه

د ۲۰۱۱ز کال په سپټمبر کې، د سپټمبر د پېښو د لسم تلين پر مهال، د پاکستان حکومت په والسټرېټ ژورنال نيمه پاڼه خبرتيا خپره کړه. د خبرتيا سرليک په دې توګه و: ((کوم هېواد ستاسې د سولې لپاره ډېر څه کولای شي؟)) د خبرتيا نوره برخه په دې توګه وه: ((له ۲۰۰۱ز کال راهيسې ۱۸۰ ميليوني ملت د نړۍ د ۷ ميليارده وګړو د راتلونکي لپاره جنګېږي. کوم بل هېواد دا کار کوي؟ يوازې پاکستان د نړۍ د سولې تعهد کړی دی.)) اسلاماباد د جګړې پر مهال د اوښتو قربانيو شمېرې هم ليکلې وې: ((د ۳۴۸٦ بمي چاودنو، ۲۸۳ لويو ځانمرګو بريدونو پر مهال، ۲۷۹۵ سرتېري وژل شوي، ۸٦۷۱ نور ژوبل شوي. په دې ترڅ کې ۲۱٦۷۲ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. ۳.۵ ميليونه وګړي په کور دننه بې ځايه شوي. ملي بوديجې ته ٦۸ ميليارده ډالره زيان اوښتی دی.

له دې خبرتيا سره د پخوانۍ وژل شوې لومړۍ وزيرې بېنظير بوټو انځور هم خپور شوی و. په خبرتيا کې ليکلي و چې د ولسمشـر اصف علي زرداري او لومړي وزير سيد يوسف رضا ګيلاني د وژلو په درجنونو دسيسې يې شنډې کړې. د والسټرېټ ژورنال په يوه بلاګ کې ليکل شوي وو چې نيويارک ټايمز د دې خبرتيا له خپرولو ډډه کړې وه، ځکه هغوی د دې خبرتيا په اړه له پاکستاني حکومت څخه د ثبوتونو او لا وضاحت غوښتنه کړې وه. د کيفي پايلا بلاګ ادعا کړې وه چې دا خبرتيا د پاکستان د ISI په مالي ملاتړ او غوښتنه خپره شوې وه.

که څه هم دا ځرګنده نه شوه چې چا دا خبرتيا خپره کړې وه، خو خبره هماغه پخوانۍ وه چې پاکستاني پوځ په ټول توان سره غوښتل لوېديځ ته د هغوی د هغې ادعا پر وړاندې چې ګني پوځ له طالبانو سره اړيکې لري، ځان سپين کړي. پوځ ډېرى وختونه دا ډول شمېرې له خبريالانو او ډيپلوماټانو سره شريکوي، که څوک غواړي چې د پاکستان په لوېديځ د پښتنو په سيمو، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې د پاکستان اداره معلومه کړي، لومړی دې په کورني سياست او کورني کلتور کې د هغوی پخواني شاليد ته مراجعه وکړي.

ما له ډېرو پاکستانيو څېړونکو سره بحث کړی، هغوی پر پوځ سختې نيوکې کوي، خو يوه مشهوره ټوکه دا چې هر څه تر ټولو ښه واضح کولای شي: ((هر هېواد پوځ لري، خو دلته پوځ يو هېواد لري.)) د دې ملت تاريخ، د دې ټوکې په حقيقت ښه پوهېږي. په ۱۹۴۷ز کال د پاکستان له خپلواکۍ څخه تر اوسه څلورو پوځي جنرالانو څلور دېرش کلونه پر دې خاوره واکمني کړې؛ (ايوب خان له ۱۹۵۸ز څخه تر ۱۹٦۹ز کال، يحيی خان له ۱۹٦۹ز کال څخه تر ۱۹۷۱ز کال، محمد ضياءالحق له ۱۹۷۷ز څخه تر ۱۹۸۸ز کال او پروېز مشـرف له ۱۹۹۹ څخه تر ۲۰۰۸ز کال پورې واکمنی کړې دي. د پاکستان پوځ تل د پرېکړو د انحصار هڅه کوي او دې کار ته د ملي ګټو د خونديتوب نوم ورکوي. په پاکستان کې پوځ ملکي چارې هم مخته وړي او د خلکو د ژوند پرېکړه کوي.

**دوام لري...**

# سبا د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي




سبا د لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۹۵ لمريز کال کې د افغانستان له لوړو زده کړو وزارت څخه د فعاليت جواز تر لاسه کړی او د دغه وزارت د خصوصي پوهنتونو او موسسو له رياست سره په ۱۲۴مه مسلسله شمېره ثبت شوې ده چې اوسمهال په کندهار ولايت کې فعاليت کوي. د دې موسسې د علمي چارو مرستيال محمد نسيم رسولي وايي، له لوړو زده کړو وزارت څخه يې د درې پوهنځيو جوازونه تر لاسه کړي، خو تر اوسه يې دوه پوهنځي فعال کړي دي. رسولي دغه راز وايي، د انجنيري، اقتصاد او کمپيوټر ساينس پوهنځيو جوازونه لري، خو تر اوسه يې يوازې اقتصاد او کمپيوټر ساينس پوهنځي ته کسان جذب کړي او فعال کړي يې دي. دی زياتوي، اقتصاد پوهنځی يې درې ډيپارټمنتونه (اداره او تجارت، ملي اقتصاد او بانک داري) لري. دغه راز سبا د لوړو زده کړو موسسې د کمپيوټر ساينس پوهنځی هم درې ډيپارټمنتونه (سافټوير انجنيرنګ، معلوماتي ټکنالوژي او معلوماتي سيستمونه) لري.

يادې موسسې له پيله تر اوسه اووه متفرقه کانکور ازموينې اخيستې چې اوسمهال د دې موسسې د اقتصاد په پوهنځي کې ۷۵٦ محصلين او په کمپيوټر ساينس پوهنځي کې بيا ۳۲۳ تنه محصلين لري چې ښځينه هم پکې دي. محمد نسيم رسولي وايي، سبا د لوړو زده کړو موسسه د افغانستان د ۱۵ ولايتونو لکه، ارزګان، بلخ، بغلان، تخار، پکتيکا، زابل، غزني، غور، کابل، کندهار، لغمان، ننګرهار، وردګ، هرات او هلمند څخه محصلان لري. دی وايي، د ورځې په دوو وختونو کې محصلين د زده کړو لپاره ورغواړي، خو په خبره يې چې تر اوسه پورې يې کومه دوره محصلين فارغ کړي نه دي.

د دې موسسې د استادانو او نورو اداري کارکوونکو شمېر د ۴۴ په شاوخوا کې دی چې د ښاغلي رسولي په خبره، ځينې استادان يې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري. دی وايي، سبا د لوړو زده کړو موسسه په پام کې لري چې د موسسې په مالي لګښت په کور د ننه يا بهر کې د خپلو علمي کادرونو د ظرفيت لوړونې په موخه د ماسټر رسمي استادانو لپاره د دوکتورا او د لېسانس رسمي استادانو لپاره د ماسټرۍ زمينه برابره کړي. د دې موسسې د علمي چارو مرستيال وايي، تر اوسه له کورنيو او بهرنيو پوهنتونونو سره علمي اړيکې يا هوکړې نه لري، خو په وينا يې په کندهار کې له دولتي او درې نورو خصوصي پوهنتونونو او موسسو سره او دغه راز په کابل کې له ابن سينا او خاتم النبيين پوهنتونونو سره پر هوکړو يې کار روان دی چې ډېر ژر به يې کارونه پای ته ورسېږي او له يادو پوهنتونونو سره به هوکړې ولري چې له مخې به يې له يادو پوهنتونو سره خپلې تجربې شريکوي او د هغوی له تجربو به ګټه اخلي.

تر څنګ به يې د دوی استادان او نور کار کوونکي د يادو پوهنتونونو له لوري په جوړو شويو سيمينارونو او ورکشاپونو کې برخه اخلي.

سبا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلينو لپاره فزيکي او ډيجيټلي کتابتونونه لري چې محصلين کولی شي له دغو کتابتونو څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. رسولي وايي، په دواړو کتابتونو کې د فعالو پوهنځيو اړوند او نور د ازادې مطالعې لپاره ګڼ‌ور کتابونه لري. د کتابتون ترڅنګ سبا د لوړو زده کړو موسسه مجهز کمپيوټر لب او د کنفرانس خونه لري. نوموړی وايي، دا چې تراوسه دوی کومه دوره محصلين نه دي فارغ کړي، نو د کارموندنې مرکز نه لري، خو په پام کې لري چې دغه ډول يو مرکز جوړ کړي تر څو وکولی شي له فارغېدونکو محصلينو سره د دندې په پيدا کولو کې مرسته وکړي. محمد نسيم رسولي وايي، وخت ناوخته د خپلو محصلينو د وړتيا لوړولو لپاره ورکشاپونه او سيمينارونه دايروي.

په ټوله کې سبا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلينو لپاره تخفيف لري، خو د رسولي په خبره، د ښځينه محصلينو لپاره اتيا سلنه، د معلولو محصلينو لپاره اويا سلنه او د پاتې نورو محصلينو وړتياو ته په کتو پنځوس او شپېته سلنه تخفيف لري. دی وايي، له دې پرته په کندهار ولايت له يو شمېر امريتونو او رياستونو سره د هوکړې له مخې هغه کسانو ته هم مناسب تخفيف ورکوي، چې له مسلکي ليسو فارغ وي او يا هم د دې رياستونو او امريتونو لخوا دوی ته ور پېژندل شوي وي.

د سبا د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستيال د دولتي او خصوصي پوهنتونو د توپير په اړه وايي، معلومه خبره ده چې دولتي پوهنتونونه د امکاناتو، استادانو په ګومارلو او نورو برخو کې دولتي ملاتړ لري چې خصوصي پوهنتونونه يې نه لري، خو که خبره د تدريسي مېتود او نورو امکاناتو شي، بيا خصوصي پوهنتونونه تر دولتي هغو هم غوره دي؛ ځکه دوی له محصلينو څخه پيسې اخلي او په بدل کې يې غوره امکانات ورته برابروي او تر ډېره هڅه کوي چې په مارکېټ کې ښه نوم ولري او په دې برخه کې لا پر مختګ وکړي.

د دې موسسې اداره وايي، راتلونکي پلانونه يې دا دي چې لومړی خو به انجنيري پوهنځی فعال کړي؛ ځکه مخکې له مخکې يې له لوړو زده کړو وزارت څخه جواز هم تر لاسه کړی او له هغه وروسته په پام کې لري چې د عامه ادارې پوهنځي جواز هم واخلي. نوموړی وايي، د دې لپاره چې يوه موسسه پوهنتون ته ارتقا وکړي، بايد پنځه پوهنځي ولري. د هغه په خبره، نو د دې موخې لپاره به کار کوي او د خپلو پوهنځيو شمېر به پنځو ته پورته کوي چې تر څنګ به يې په ټولو برخو کې د کيفيت لوړولو ته هم پام کوي. دی وايي، څه موده مخکې له لوړو زده کړو وزارت څخه ورته پلاوی لېږل شوی و چې په خبره يې د ارزونې پايلې يې هم مثبتې وې.

د دې موسسې د مشرتابه په خبره، اوسمهال په ټول افغانستان کې ۱۳۱ خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې فعالې دي، چې د تدريس چارې پکې د نږدې ۱۲ زره کادري غړو لخوا مخ ته وړل کېږي او په اداري او خدماتي برخه کې ۲۲ زره نور کسان په کار بوخت دي او په ډېره لوړه کچه پکې پانګونه شوې ده، نو لوړو زده کړو وزارت ته په کار ده چې په دې برخه کې د خصوصي سکتور لاسنيوی وکړي او په هر اړخيزه توګه ورسره مرسته وکړي. رسولي وايي، هغه معيارونه چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونو لپاره ټاکلي، په ډېره لوړه کچه دي چې عملي کول يې ان په دولتي پوهنتونو کې چې د دولت هر اړخيز ملاتړ ورسره دی، ستونزمن دي. دی وايي، لوړو زده کړو وزارت ته په کار ده چې په هر اړخيزه توګه له خصوصي پوهنتونونو سره مرسته وکړي، د محصلينو او استادانو د ظرفيت لوړولو او تحقيقي مرکزونو او سيمينارونو جوړولو په برخه کې يې ملاتړې واوسي. د نوموړي په خبره، لوړو زده کړو وزارت ته همدا راز په کار ده چې د ولايتونو دولتي پوهنتونونه په اړوند ولايت کې له خصوصي پوهنتونونو سره په ټولو برخو کې همکار اوسي او لارښوونه ورته وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸٦,۸۰ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

روغتیا

# افسردگی در سالمندان؛ علائم، دلایل و راه‌های درمان آن

ترجمه: احمد فردوسی

آیا دیگر به فعالیت‌های محبوب تان علاقه ندارید؟ آیا احساس ناتوانی و ناامیدی امان‌تان را بریده است؟ آیا سپری کردن ایام روز به روز برای تان سخت تر و سخت تر می‌شود؟ نگران نباشید. بسیاری از سالمندان با این وضعیت دست‌و پنجه نرم می‌کنند. فارغ از اینکه سوابق و دستاوردهای ما چیست، با بالارفتن سن، افسردگی سراغ همه می‌آید! علائم افسردگی در سالمندان به تمام شئون زندگی تسری می‌یابند و بر انرژی، اشتها، خواب، علاقه به کار، سرگرمی و روابط اجتماعی آنها تأثیر می‌گذارد. بااین‌حال، برای سرحال بودن، شادابی و بهبود کیفیت زندگی در دوران سالمندی روش‌های فراوانی در دسترس است. در این مقاله با نشانه های افسردگی در سالمندان و راه‌های مقابله با آن‌ها آشنا می‌شوید.

**آیا سالمندی افسرده هستید؟**

وقتی پا به سن می‌گذاریم، افسردگی در کمین همه ماست. اما متاسفانه اکثر سالمندان افسرده علائم افسردگی را تشخیص نمی‌دهند و گام‌های لازم را برای مقابله با آن برنمی‌دارند. نادیده‌گرفتن افسردگی در سالمندی دلایل فراوانی دارد:

شاید فکر می کنید بی‌حس‌وحال‌بودن‌تان طبیعی است و افسردگی جزئی از فرایند پیرشدن است.

شاید تنها و منزوی هستید (که این موضوع به‌نوبه خود می‌تواند به افسردگی منجر شود) و کسی در کنارتان نیست که متوجه آشفتگی شما شود.

شاید متوجه نیستید که مشکلات جسمی‌تان نشانه‌های افسردگی هستند (نشانه های جسمی افسردگی).

شاید از حرف‌زدن درمورد احساسات‌تان یا کمک‌خواستن از دیگران ترس دارید.

مهم است بدانید که افسردگی جزئی ناگزیر از فرآیند پیرشدن و نشانه ناتوانی یا ضعف شخصیت نیست. هر کسی فارغ از گذشته و موفقیت‌هایش ممکن است به افسردگی دچار شود. وقتی وارد دوران سالمندی می‌شویم زندگی‌مان تغییر می‌کند. تغییراتی مانند بازنشستگی، مرگ عزیزان، کاهش سلامتی و... . این تغییرات می‌توانند به افسردگی منجر شوند اما این وضعیت واقعا اجتناب‌پذیر است. با وجود همه چالش‌های دوران کهن‌سالی، می‌توان برای شاد بودن و امیدواری در دوران طلایی سالمندی گام‌هایی برداشت.

افسردگی جزئی ناگزیر از فرآیند پیرشدن و نشانه ناتوانی یا ضعف شخصیت نیست.

**علائم و نشانه‌های افسردگی در سالمندان**

برای تشخیص افسردگی کهن‌سالی باید علائم و نشانه‌های آن را شناخت. علائم هشداردهنده شامل این موارد هستند:

غم یا احساس یأس؛
ازدست‌دادن حس ارزشمندبودن (نگرانی از سرباردیگران‌بودن، احساس بی‌ارزش‌بودن یا نفرت از خود)؛
دردها و رنج‌های غیرقابل‌توضیح یا تشدیدشده؛
ازدست‌دادن علاقه به فعالیت‌های اجتماعی و سرگرمی‌ها؛
کندشدن آهنگ صحبت کردن یا حرکت کردن؛
کاهش وزن یا اشتها؛
افزایش مصرف دخانیات و مشروبات الکولی؛
احساس ناتوانی یا ناامیدی؛
فکر کردن دائمی به مرگ یا خودکشی؛
بی انگیزگی و کاهش انرژی؛



مشکلات حافظه؛
اختلالات خواب ؛
بی‌توجهی به مراقبت‌های شخصی.

**سالمندان افسرده لزوماً غمگین نیستند**

شاید غم و افسردگی را همزاد هم تصور کنیم اما بسیاری از سالمندان افسرده اعلام می‌کنند که غمگین نیستند. این سالمندان درعوض از بی‌انگیزگی، بی‌انرژی‌بودن یا مشکلات جسمانی شکایت می‌کنند. درواقع، مشکلات جسمانی مانند درد مفاصل (آرتروز) یا سردردهای تشدیدشونده غالب‌ترین نشانه‌های افسردگی در سالمندان است.

**غم یا افسردگی؟**

با پیرشدن چیزهای زیادی را از دست می‌دهیم. ازدست‌دادن دردناک است، خواه از دست دادن شغل باشد یا توانایی حرکت، سلامتی، استقلال یا یکی از عزیزان. عزاداری و غصه‌خوردن در این مواقع کاری طبیعی و سالم است، حتی اگر مدتی طولانی ادامه یابد.

تشخیص غم از افسردگی به این سادگی‌ها نیست. این‌دو نشانه‌های مشترک فراوان دارند. البته راه‌هایی برای تشخیص آنها وجود دارد:

احساس غم فراز و فرودهای بیشتری دارد و گستره وسیع‌تری از عواطف را شامل می‌شود. فرد غمگین روزهای خوب و بد زیادی دارد. شما در همان حال که غمگین و عزادار هستید کماکان لحظاتی شاد و لذت‌بخش را تجربه می‌کنید.

اگر افسرده باشید، احساس پوچی و یأس همراه همیشگی شماست.

غمگین‌بودن محدودیت زمانی خاصی ندارد. اگر غم شما به‌مرور زمان کاهش نیافت و تمام نشانه‌های لذت‌بردن (خندیدن به یک لطیفه خنده‌دار، لذت‌بردن از درآغوش کشیده‌شدن، کیف کردن از یک غروب دل‌انگیز و...) را از شما گرفت، احتمالاً افسرده هستید.

**دلایل افسردگی در سالمندان**

با پابه‌سن‌گذاشتن دگرگونی‌هایی عظیم در زندگی ما روی می‌دهد. این تغییرات می‌توانند احتمال افسردگی را افزایش دهند و شامل موارد زیر هستند:

**۱. مشکلات سلامت**

بیماری ها یا معلولیت، دردهای مزمن یا شدید، کاهش توانایی‌های شناختی، تخریب شکل بدن به‌علت جراحی یا مریضی و... می‌توانند در بروز افسردگی مؤثر باشند.

**۲. تنهایی و انزوا**

عواملی مانند تنها زندگی کردن، کاهش تدریجی تعاملات اجتماعی در پی مرگ یا جابه‌جاشدن دوستان و آشنایان، کاهش تحرک به‌علت مریضی یا ازدست‌دادن امکان رانندگی می‌توانند منجر به افسردگی شوند.

**۳. کاهش احساس سودمندی**

بازنشستگی می‌تواند با ازدست‌دادن حس هویت، شأن اجتماعی، اعتماد به نفس و امنیت اقتصادی همراه باشد و خطر بروز افسردگی را افزایش دهد. ایجاد محدودیت‌های جسمی برای انجام‌دادن فعالیت‌های موردعلاقه نیز در کاهش حس سودمندی مؤثر است.

**۴. ترس‌ها**

شامل ترس از مرگ یا مردن و همچنین اضطراب درمورد مشکلات مالی یا بیماری ها .

**۵. مرگ عزیزان**

مرگ دوستان، اعضای خانواده، حیوانات خانگی یا همسر و شریک زندگی از دلایل عمده افسردگی در سالمندان است.

**زوال عقل یا افسردگی**

کاهش هوشیاری ذهنی را هرگز نشانه‌ای معمولی از پیرشدن تصور نکنید. این مسئله می‌تواند نشانه افسردگی یا زوال عقل باشد که هردو در سالمندان متداول است. زوال عقل و افسردگی نشانه‌های مشترکی دارند، ازجمله: مشکلات حافظه، تکلم و تحرک کُند و انگیزه پایین. بنابراین، تمیزدادن این دو از یکدیگر کار دشواری است.

**نشانه‌های افسردگی**

کاهش هوشیاری ذهنی نسبتاً سریع است؛
از زمان، تاریخ و مکانی که در آن قرار دارید آگاهید؛
در تمرکز کردن با دشواری روبه‌رو هستید؛
مهارت های گفتاری و حرکتی کُند می‌شوند اما طبیعی‌اند؛
متوجه مشکلات حافظه هستید و از این بابت نگرانید.

**خوددرمانی برای افسردگی سالمندان**

شاید به غلط بر این باور باشید که سالمندان پس از سنی خاص توانایی آموختن مهارت‌های جدید، انجام کارهای جدید یا ایجاد تغییرات جدید در سبک زندگی خود را از دست می‌دهند. حقیقت این است که مغز انسان همواره در حال تغییر است. به‌این‌ترتیب، سالمندان نیز، مانند جوانان، قابلیت آموختن مطالب جدید و سازگارشدن با ایده‌های جدید را دارند. این توانایی تغییر اصلی‌ترین یاریگر شما برای رهایی از افسردگی‌ست.

برای غلبه بر افسردگی باید علایق جدیدی پیدا کنید، سازگاری با تغییرات را بیاموزید، از نظر جسمی و اجتماعی فعال باشید و خود را هم‌بسته با جامعه و عزیزان‌تان احساس کنید.

البته وقتی افسرده هستید، دست‌به‌کارشدن و خوددرمانی سخت‌ترین کار دنیاست. گاهی حتی تصور انجام کارهای مفید هم برای ما دشوار و عذاب‌آور است. اما برداشتن گام‌های کوچک همیشه معجزه‌آفرین است و حال شما را دگرگون می‌کند. به‌عنوان مثال، در همین لحظه می‌توانید کمی قدم بزنید. این کار شما را درحدود ۲ ساعت سرحال نگه می‌دارد. با برداشتن گام‌های کوچک و روزانه نشانه‌های افسردگی‌تان به‌مرور از بین می‌رود و انرژی و امیدی دوباره به شما تزریق می‌شود. در ادامه رهنمودهای مفیدی را با شما در میان می‌گذاریم:

**۱. اجتماعی باشید و از حمایت دیگران بهره‌مند شوید**

اگر افسرده هستید، احتمالاً تمایل ندارید کاری انجام دهید یا با کسی ملاقات کنید. اما انزوا افسردگی شما را تشدید می‌کند. حفظ مثبت اندیشی و تداوم تلاش برای غلبه بر افسردگی به‌تنهایی دشوار است. به همین دلیل، استفاده از حمایت دیگران اهمیت دارد. ارتباطات خود را با دیگران افزایش دهید و زمان محدودی را به تنهایی سپری کنید. اگر بیرون‌رفتن از منزل برای شما دشوار است، عزیزان‌تان را به منزل دعوت کنید یا ارتباطات‌تان را با تلفن و ایمیل حفظ کنید.

به یاد داشته باشید که ارتباطات دیجیتال جایگزین ملاقات‌های چهره‌به‌چهره نیستند. سعی کنید ارتباطات حضوری روزانه داشته باشید. به‌این‌ترتیب، بهترین حال نصیب‌تان می‌شود. همین‌طور به یاد داشته باشید که هیچ‌وقت برای دوستیابی و پیدا کردن دوست جدید دیر نیست.

**در فعالیت‌های داوطلبانه مشارکت کنید**

کمک به دیگران موجب می‌شود نسبت به خودتان احساس خوبی پیدا کنید. همچنین این کار یکی از بهترین روش‌ها برای توسعه روابط اجتماعی است.

**به گروه‌های حمایتی بپیوندید**

هم‌نشینی با افرادی که در وضعیتی مشابه قرار دارند حس انزوای شما را کاهش می‌دهد. آشناشدن با تجربیات دیگران در مبارزه با افسردگی می‌تواند الهام‌بخش شما باشد.

**تا می‌توانید بخندید**

خندیدن شما را سرحال می‌کند. با عزیزان‌تان بگوبخند کنید و لطیفه و داستان‌های خنده‌دار بگویید. فیلم‌های طنز ببینید یا کتاب‌های طنز بخوانید.

**۲: زندگی خود را معنادار و هدفمند کنید**

برای غلبه بر افسردگی (و نیز جلوگیری از افسردگی مجدد) باید زندگی هدفمندی داشت و از آن لذت برد. با پیرشدن زندگی تغییر می‌کند. شاید دیگر نتوانید کارهای موردعلاقه‌تان را که به زندگی شما معنا می‌بخشیدند انجام دهید. بازنشستگی، ازدست‌دادن دوستان و عزیزان، تغییر محل زندگی و دورشدن از آشنایان و تغییر وضعیت مالی، اجتماعی و سلامتی می‌تواند روحیه، اعتمادبه نفس و حس مفیدبودن شما را تحت‌تأثیر قرار دهند. اما راه‌های فراوان دیگری برای معنابخشی به زندگی و سرگرم‌بودن وجود دارد. گاهی تنها کافی‌ست نگرش‌تان به زندگی و فرایند پیرشدن را تغییر دهید. به‌جای تمرکز بر کارهایی که دیگر نمی‌توانید انجام دهید، به کارهایی فکر کنید که هنوز می‌توانید انجام دهید شاید فکرکردن به کارهایی که دیگر نمی‌توانید (یا آن‌طور که می‌خواهید نمی‌توانید) انجام دهید شما را ناامید و بی‌انگیزه کند. شاید هم افکار منفی درمورد پیرشدن اعتمادبه‌نفس شما را مسموم کرده است. به‌جای تکیه بر کارهایی که قبلا انجام می‌دادید، بر کارهایی تمرکز کنید که هم‌اکنون می‌توانید انجام دهید. خودتان متوجه می‌شوید که انبوهی از کارهای انجام‌نداده و جذاب پیش روی شماست.

**مهارت‌های جدید بیاموزید**

کارهای جدیدی بیاموزید که همیشه آرزوی یادگیری آنها را داشته‌اید. کارها و مهارت‌هایی یاد بگیرید که خلاقیت و خیال‌پردازی شما را به عرش برسانند؛ مهارت‌هایی مانند یادگیری زبان های خارجی یا بازی و ورزشی خاص. آموختن کارهای جدید هم معنا و لذت را در زندگی به ارمغان می‌آورد و هم هوشیاری و سلامت مغز شما را تقویت می‌کنند.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د نومبر دریمه | ٤٥٥مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱٦ | ۲٤ | ۲٦ | ۲٤ | ۲٥ | ۲۳ |
| ٥ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۳ | ۱٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٦ | لمر ختل ۰٦:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۲:٤۱ | ماښام ۰٥:۰٥ | ماخوستن ۰٦:۳۰

## نړۍ



# پامپیو: د عراق حکومت باید د لاریون کوونکو مشروع غوښتنې واوري

۳

## ظریف: پر تهران د امریکا نوي بندیزونه د واشنگټن ناکامي په ډاگه کوي



ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف ویلي چې پر تهران د امریکا نویو بندیزونو د واشنگټن د کړنلارو ناکامي څرگنده کړه.

ظریف دغه راز پر امریکا غږ کړی چې د ۲۰۱٥ میلادي کال له اټومي هوکړې سره بېرته یو ځای شي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا حکومت په خپل تازه اقدام کې د ایران پر ساختماني صنعت د دې لپاره چې له سپاه پاسداران انقلاب گارد سره یې اړیکې درلودې، نوي بندیزونه لگولي دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاندې مورگن اورتیگس پر خپل ټوېټر لیکلي چې سپاه پاسداران انقلاب یو تروریستي سازمان دی او له دې ډلې سره د تړاو له امله د ایران پر ساختماني صنعت بندیزونه لگول شوي دي.

خو د امریکا له دغه اعلان وروسته د ایران د بهرنیو چارو وزیر په دې اړه په غبرگون کې پر ټوېټر لیکلي: «امریکا پر هر وگړي، ښځې، نارینه او ماشوم بندیز لگولی شي، خو ایرانیان به زورگویۍ ته تسلیم نه شي».

هغه دغه راز زیاته کړې چې امریکا باید ناکامې کړنلارې پرېږدي او بېرته د ۲۰۱٥ میلادي کال هوکړې ته را وگرځي.

د یادونې ده چې د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ د امریکا حکومت تېر میلادي کال له دغه هېواد سره د اټومي پروگرام پر سر د نړۍ د شپږو پیاوړو هېوادونو له هوکړې ووت او بېرته یې د دغه هېواد پر مهمو سکټورونو سخت بندیزونه ولگول.

## د پاکستان پوځ: د عمران خان له حکومت او اساسي قانون څخه ملاتړ کوو




په داسې حال کې چې د پاکستان د حکومت د مخالفو گوندونو په لسگونو زره کسان په اسلام آباد کې پر لاریونونو بوخت دي، د دغه هېواد پوځ ویلي، د ټاکل شوي حکومت او د اساسي قانون ملاتړ کوي.

لاریون کوونکي د عمران خان له یو کلن حکومت نه غوښتي چې د یکشنبې (نن) پورې له کاره گوښه شي، خو د پاکستان د پوځ ویاند جنرال اصف غفور ویلي: «موږ په قانون او اساسي قانون باور لرو او موږ په ډیموکراتیکه توگه د ټاکل شوي حکومت ملاتړ کوو، نه د یو گوند».

بل لور ته د پاکستان د حکومت مخالفو گوندونو ویلي، د عمران خان حکومت غیر قانوني دی او پوځ یې شاته ولاړ دی، خو پوځ بیا په سیاست کې د دخالت تورونه رد کړي او عمران خان هم د کاره له گوښه کېدو په هکله د مخالفینو غوښتنه رد کړې ده.

له بلې خوا د اعتراض کوونکو مشر مولانا فضل الرحمن په اسلام آباد کې خپلو زرگونو ملاتړو ته په وینا کې ویلي چې د (دولتي) تاسیساتو سره مخامخ کېدل نه غواړي، خو په پوځ یې غږ کړی چې خپل ناپېیلتوب وساتي.

د پاکستان د پوځ ویاند اصف غفور ویلي، فضل رحمن باید پوه شي چې پوځ بې طرفه و او باید چې په سیاست کې ښکېل نه کړای شي.

دا د تېر کال په ټاکنو کې د عمران خان تر بریالیتوب وروسته د هغه د حکومت پر ضد لومړني پراخ لاریونونه دي. عمران خان د فساد ضد مبارزې او د پاکستان د اقتصاد د رغولو په شعار واکمن شو، خو د هغه سیاسي منتقدین وایي چې نوموړی په خپلو ژمنو کې پاتې راغلی دی.

## مرکز خبرنگاران افغانستان: طی دو دهۀ اخیر در افغانستان ۱۰۹ خبرنگار و کارمند رسانه‌ای کشته شده‌اند



مرکز خبرنگاران افغانستان می گوید که طی حدود دو دهۀ اخیر در افغانستان، بیش از ۱۰۹ خبرنگار و کارمند رسانه‌ای کشته شده‌اند، و بیش از ۹۰ درصد عاملان کشتن خبرنگاران، از مجازات معاف بوده اند.

بررسی‌های مرکز خبرنگاران افغانستان نشان می‌دهد که از این تعداد، عدالت به طور کامل و یا نسبی تنها در شش قضیه تامین شده است.

این در حالی است که دیروز ۲ نوامبر (۱۱ عقرب) روز بین‌المللی پایان دادن به معافیت از مجازات جرایم علیه خبرنگاران نام‌گذاری شده است و افغانستان در صدر کشورهایی قرار دارد که در پایان دادن به معافیت از مجازات این‌گونه جرایم، ناکام بوده است.


یافته های مرکز خبرنگاران افغانستان که در آستانه روز بین‌المللی پایان دادن به معافیت از جرایم علیه خبرنگاران منتشر شده است، نشان می‌دهد که از سال ۱۳۸۰ هجری خورشیدی تا سال ۱۳۹۸، ۱۰۹ خبرنگار و کارمند رسانه‌ای در افغانستان (+۲ خبرنگار افغان در پاکستان) کشته شده اند که ۱٥ تن آن زنان هستند.

منبع افزوده است، در مجموع، ۹۴ تن از خبرنگاران و کارمندان رسانه‌ای کشته شده، شهروندان افغانستان و ۱۷ تن دیگر اتباع سایر کشورها به ویژه کشورهای اروپایی هستند که بیشتر آنان، در جریان کار کشته شده‌اند. تنها در سال جاری هجری خورشیدی، چهار خبرنگار و کارمند رسانه‌ای در افغانستان جان خود را از دست داده‌اند.

بر پایه معلومات مرکز خبرنگاران افغانستان، طالبان در قضایای کشتن ٥۰ تن، داعش ۲۹ تن، افراد مسلح غیر مسئول ۲٥ تن، نیروهای ناتو سه تن، اعضای خانواده و یا بستگان، سه تن، و پولیس ملی افغانستان نیز به کشتن یک تن، مظنون و یا متهم می‌باشند.

## ژوند


## د درد اراموونکو درملو ډېر کارول مو بډوډې زیانمنوي



ډېر ښه او بد عادتونه شته چې زموږ د ژوند یوه برخه گرځېدلي او پرېښودل یې سخت دي، خو که پوه شو چې ځینې بد عادتونه مو روغتیا ته زیان رسوي، نو بیا یې په اسانۍ سره پرېښودی شو. ورځني عادتونه مو پر روغتیا مستقیم اغېز لري. ډېری بد عادتونه چې موږ ارزښت نه ورکوو، زموږ اندامونو ته زیان رسوي او د بېلابېلو خطرناکو ناروغیو لامل کېږي. د مسکنو او پړسوب ضد تابلېټونو ډېر خوراک ښایي ستاسو دردونه ارام کړي، خو په ورته وخت کې مو بډوډو ته زیان رسوي. دغه زیان هغه وخت یو پر دوه کېږي چې مخکې مو د بډوډو ناروغي تېره کړې وي او یا هم اوس ورسره لاس او گرېوان وی.

د مسکنو او پړسوب ضد درملو کارول را کم کړئ او هېڅ وخت د ډاکټر له مشورې پرته دا ډول درمل مه خورئ. د ډېرې مالگې او سودیم لرونکو خوراکي توکو خوړل د وینې فشار لوړوي چې په دې توگه پر بډوډو هم فشار ډېرېږي. خوړو ته مو د زیاتې مالگې پر ځای د سبزیو او معطرو بوټو په وسیله خوند او رنگ ورکړئ. د وخت په تېرېدو سره په اسانۍ کولی شی چې په خوړو کې له کمې مالگې سره عادت شی.

## قوي ایمان مو هوډ پیاوړی کوي



انسان ځینې وختونه هیلو ته په رسېدو کې زړه نازړه وي. موږ ولې داسې کوو؟ ښه پوهېږو چې خدای پاک را سره د ډېرو شیانو وعدې کړې دي، د روغتیا، ښه ژوند، پرمختگ، غنا او دې ورته نور ډېر څه، خو بیا هم فکر کوو چې موږ دا شی نه لرو یا ورته رسېدای نه شو. اصلي خبره دلته ده چې زموږ ایمان او باور کمزوری شوی دی. که تاسې پر خپل واحد خدای باور او د زړه له تله ایمان ولری، په خپل اوسني حالت به شکر وباسی او د نورو نعمتونو په تمه به وی. موږ د هغه څه په اړه چې همدا اوس یې لرو، هېڅ هم نه وایو یا شکر نه باسو، خو هغه څه چې نه یې لرو او یا هم تر اوسه ورته اړتیا نه لرو، ټول وخت بدې ورځې کوو.

نه شم کولای لوی لوی کارونه وکړم، وړتیا نه لرم، کورنی ژوند به مې بې خونده شي، د ډاکټر خبرې ښې نه وې. تاسې هرڅه ته له یوې محدودې زاویې گورۍ. تاسې د یوه داسې کار لپاره پیدا شوي یی چې که یې پیل کړی، په خپل مسلک کې به خپلې د کمال درجې ته ورسېږی.